# د افغانســـتان اســـلامي امارت
## د ارشـــاد، حج او اوقافو وزارت
## دمساجدو د ارشاد او انسجام ریاست
## دارشـــاد او دعوت آمـــریت
## دخطبو دتنظیم عمومي مدیریت

د جمعې د خطبې لارښود مؤرخ: ۱۴۴۳/۷/۲هجری قمری مطابق۱۴۰۰/۱۱/۱۵هجری شمسی


# د تیرو امتونو د هلاکت اسباب

الحمد لله الذي نزل الفرقان على عبده ليكون للعالمين نذيراً ، والصلاة والسلام على من بعثه الله هادياً ومبشراً ونذيراً ، وداعياً إلى الله بإذنه وسراجاً منيراً، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم تسليماً كثيرا .

أما بعد:

که چیرې مونږ د تیرو قومونو او امتونو تاریخ په ځیر سره مطالعه کړو، وبه وینو چې د هغوی د هلاکت مهم لامل د خپلو پیغمبرانو سره مخالفت کول ؤ او د ګناهونو په وجه باندې هغوی په مختلفو عذابونو باندې مبتلا شوي دي او الله تعالی په عذابونو باندې هلاک کړي دي، چې په دې کې د حضرت محمدصلی الله علیه وسلم امت لپاره په کې لوی عبرت او درس پروت دی. لکه څرنګه چې مونږ د قرآن کریم په آیتونو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې د ګناهونو څخه منع شوي یو په کار ده چې ځانونه د هغو کارونو او خویونو څخه وژغورو چې له امله یې تیر امتونه هلاکت شوي ؤ.

مونږ ته ښایي چې خپل ژوند د شریعت د لارښوونو سره سم عیارکړو ترڅو د ددنیا او آخرت کامیابي مو په برخه شي.

تیر امتونه د مختلفو لاملونو په وجه هلاک شوي ؤ چې ځینې یې په لاندې توګه دي:

**۱-ګناه او معصیت:**

ګناهونه اومعصیتونه دنیوي اوآخروي عذابونه له ځانه سره لري او په انسانانو، ښارونو،کلو اومنطقو باندې بد آثرات پرې باسي، په دنیا او آخرت کې چې څومره تکلیفونه، مرضونه او مصیبتونه موجود دي،لامل یې ګناهونه او معصیتونه دي.

راځئ چې قرآن کریم مطالعه کړو اود هلاک شوو قومونو انجام ته متوجه شو.

که فکر وکړو په څه باندې ابلیس د آسمانونوڅخه وشړل شو او د آبد لپاره لعنتي شو؟

هغه کوم لامل ؤ چې د زمکې اوسیدونکي یې په اوبو کې غرق کړل؟:{مِمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ أَنصَارًا} نوح:(۲۵)

**ترجمه :** د خپلو ګناهونو په سبب هغوی په اوبو کې غرق کړای شول او بیا یې ارواح اور(جهنم) ته داخل کړای شول او پرته له الله تعالی دوی بل مرسته کوونکی ونه موندلو.

په عادیانو باندې توند او تیز باد په څه وجه مسلط شو او ټول یې له زمکې اوچت کړل او پر زمکه یې را وویشتل؟

الله تعالی فرمایلي دي: وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ۰ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَى كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ }الحاقة:(۷)

**ترجمه:** او عادیان هلاک کړل شو په ډیر توند او تیز باد باندې چې زیات یخ ؤ ( او یا داچې تیز اواز یې له ځانه سره درلود)، الله جل جلاله په دوی باندې اوه شپې او اته ورځې مسلط کړی ؤ دوامداره ؤ ، لیدل به تا خلک چې لویدلي به ؤ په زمکه باندې داسې لکه د خرما سټه چې را چپه شوی وي.

بیا ثمودیان په کومه ګناه باندې هلاک شول؟ الله تعالی ثمودیان په داسې تیزه چغه باندې هلاک کړل چې زړونه یې ټوټه ټوټه او ټول تباه شول. الله تعالی فرمایلي دي:{ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ}الاعراف:(۷۸)

**ترجمه:** او ونیول دوی سختې زلزلې او پریوتل په کورونو کې نسکور په زنګنو باندې.

په کومه ګناه باندې د لوط علیه السلام قوم لومړی آسمان ته اوچت کړای شول؛ آن تردې چې ملائکو یې د سپو آوازونه واوریدل او بیا یې هغوی سرچپه زمکې باندې وویشتل او د کاڼو باران یې وربانډې وکړ او ټول هلاک کړای شو او داسې عذابونه یې وربانډې مسلط کړل چې په بل یو امت یې نه دي مسلط کړي؟

الله تعالی فرمایل دي:{وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ}الاعراف:(٨٤)
**ترجمه:** او بیا مونږ وربانديې د (کاڼو) باران وکړ. وګوره! څنګه شو آخري انجام د مجرمانو.
او دفرعون قوم په بحر کې په کومه وجه غرق شو او ارواح يې په جهنم کې واچول شول؟ الله تعالی فرمايلي دي:{وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنجَيْنَاكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ}البقرة:(٥٠)
**ترجمه:** او ياد کړه هغه وخت چې درياب مو درته دوه ځايه کړ، تاسو ته مو نجات درکړ او د فرعون تابعداران مو په کې غرق کړل او تاسو ورته کتل.
همدا راز قارون د خپل مال او کورنۍ سره ولی په زمکه ور ومنډل شو؟ الله تعالی فرمايي:{فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُ مِن دُونِ اللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ المُنتَصِرِينَ}القصص: (٨١)
**ترجمه:** مونږ هغه (قارون) او دهغه کورنی په زمکه ور ومنډل، پس د الله جل جلاله پرته بل هيڅوک يو ټولی نه ؤ چې مرسته يې ورسره کړی وای او له ځان سره يې مرسته نه شوه کولی.
او په بني اسرائيلو باندې جنګيالي مسلط شو او د دوی نارينه به يې وژل او ښځې او ولادونه به يې بنديان نيول. الله تعالی فرمايي: {وَقَضَيْنَا إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ فِي الْكِتَابِ لَتُفْسِدُنَّ فِي الأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا}اسراء:(٤)
**ترجمه:** مونږ په تورات کې بنی اسرائيلو ته اعلان کړی ؤ چې تاسو به دوه ځله فساد کوی او لويه سرکشي به کوی.
**ګرانو متدينو مسلمانانو!**
دګناهونو عذاب په دنيا او آخرت کې ډيرسخت دی . الله تعالی فرمايي:{وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبْقَى} طه:(١٢٧) ترجمه: د آخرت عذاب ترټولو سخت او ډير دوامداره دی.
متأسفانه د نن ورځ انسانان د تيرو امتونو د عذابونو څخه هيڅ پند نه اخلي. الله تعالی فرمايی:{أَلَمْ نُهْلِكِ الْأَوَّلِينَ ۰ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْآخِرِينَ۰ كَذَلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ۰ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ}المرسلات:(١٩)
**ترجمه:**آيا مونږ پخواني نه ؤ هلاک کړي او بيا مو ورپسې نور هم هلاک کړل، همدارنګه چاره کوو له مجرمانو سره، هلاکت دې وي په هغه ورځ کې تکذيب کوونکو لره.
د ګناه او معصيت له آثارو څخه په نړۍ کې ډول ډول فسادونه رامنځ ته کيږي ؛ لکه: په اوبو کې، په هوا کې، پ ميوو کې فساد. الله تعالی فرمايي:{ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ} الروم:(٤١)
**ترجمه:** ښکاره شو فساد په وچه او په بحر کې د هغه ګناهونو له امله چې د خلکو لاسونو کړي دي؛ ترڅو و څکي خلک جزاء د هغو ګناهونو چې دوی يي کوي، کيدای شي چې راوګرځي له ګناهونو څخه.
د ګناهونو د بدو آثراتو څخه د زلزلو منځ ته راتلل دي چې د زمکې په مختلفو نقطو کې رامنځ ته کيږي او ډول ډول ورانۍ رامنځ ته کوي.
د ګناهونو د بدو اغيزو څخه د بارانونو بنديدل، د زمکې د سطحې د اوبو ښکته تلل هم دي؛ چې د زراعت او فصلونو خرابۍ او د ميوه جاتو او غلو د کمښت سبب ګرځي.
د ګناهونو له بدو آثراتو څخه مرضونه، صعب العلاج او وژونکو وباګانې زياتيږي چې په ماضي او حاضر وخت کې يې مونږ شاهدان يو.
د ګناهونو په وجه په ټولنه کې اختلافات، بې اتفاقي را منځ ته کيږي چې د کله ناکله د وژنو او د ظالمانو دتسلط باعث ګرځي. قرآن کريم فرمايي:{ قُلْ هُوَ الْقَادِرُعَلَى أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعاً وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ}الانعام: (٦٥)
**ترجمه:** ای محمد(صلی الله عليه وسلم)دوی ته ووايه! الله تعالی په دې قادر دی چې په تاسو له پاسه عذاب نازل کړي او يا درته د پښو لاندې عذاب درکړي اويا مو د نورو ډلګيو سره په شخړه واړوي او وڅکي ځينې ستاسو څخه عذاب د ځينو نوروڅخه. وګوره! څرنګه بيانوو دلائل د قدرت، شايد دوی پوهه شي.
د ګناهونو ترټولو لوی آثر دادی چې د زړه څخه نور اوښنايي مړه شي اوايماني غيرت له منځه ولاړشي، په زړه کې د معصيت او ګناه اراده تقويه شي آن تردې پوری چې انسان د توبې څخه محروم شي او له دنيا څخه پرته له توبې ولاړ شي.

**متدينو مسلمانانو!**

په اوسنۍ ټولنه کې د ګناهونو مختلف ډولونه موجود دي او اکثره خلک ورباندې اخته دي ؛لکه: لمونځ نه کول، د جمعې او جماعت ترک کول، د حرامو خوراک، په معاملاتو کې خيانت کول، په باطله سره د خلکو مال اخيستل او خوړل، په کورونو او بازارونو کې د مبتذلو موسيقي او سندرو اوريدل، د ښځو بې حجابي او د کفارو سره په کړو وړو کې مشابهت ، په لباس کې مشابهت، د ږيرې په خريلو او د بريتو په پريښودلو کې مشابهت، د نوکانو په اوږدولو کې مشابهت... حال داچې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي :( قَالَ خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ وَفِّرُوا اللِّحَى وَأَحْفُوا (وَأَحِفُّوا) الشَّوَارِبَ ) صحيح البخاري-نسخة طوق النجاة

**ترجمه:**مشرکانو سره مخالفت وکړئ ږيرې پريږدئ او بريتان کم کړئ.

مونږ مسلمانان بايد الله تعالى ته رجوع وکړو او دخپلو بدو اعمالو څخه توبه وباسو ؛ لکه چې الله تعالى فرمايي:{وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ}:النور(٣١)

**ترجمه:** او توبه وباسئ الله تعالى ته ټول اى مؤمنانو! ددې لپاره چې تاسو کامياب شى.

**٢- د تيرو امتونو د هلاکت له ښکاره اسبابو څخه يو هم ددنيا د مال او مقام سره محبت او حرص ؤ.**

په همدې اساس د اسلام مقدس دين وايي چې بايد د روح او جسم دواړو حقوق رعيات شي او د ژوند مادي او معنوي دواړو اړخونو ته دې توجه وشي ؛ مګر دا دواړه مادي او معنوي اړخونه يي يو شان نه دي ګرځولي ؛ بلکې معنوي اړخ د اسلام له نظره اصلي هدف دی او د ژوند مادي اړخ د ژوند د امتحان، ژر تيريدونکي او اصلي هدف چې د آخرت نيکبختيو ته رسيدل دي، وسيله ده.

دنيوي مادي اړخ باندې بايد زياته تکيا ونه شي؛ بلکې د ذريعي او وسيلې په ځير ورڅخه استفاده وشي.

بناءً مونږ داسې ونه کړو چې دنيا خپل اصلي هدف وګرځوو او دآخرت له کارونو څخه غافله شو. الله تعالى فرمايلي دي: {وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلاَدُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ اللّهَ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ} (انفال:٢٨).

**ترجمه :**پوهه شئ چې ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه يواځې ازمايښت دی او بيشکه دالله تعالى سره لوی اجر دی.

**الف: د مال او مقام سره د محبت ساتلو خطر:**

عن كعب بن مالك - رضي الله عنه - ، قَالَ : قَالَ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - : ( مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلا في غَنَمٍ بِأفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ المَرْءِ عَلَى المَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينهِ ). رواه الترمذي

**ترجمه:** رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: که چيرې دوه وږي ليوان په رمه کې پريښودل شي دومره به يي خرابه نه کړي لکه څومره چې د مال حرص انسان خرابوي او مقام د هغه دين خرابوي.

مقصد دا چې د مال او مقام سره محبت ساتل او ددې دواړو د لاسته راوړلو لپاره هلې ځلې او حرص کول، انسان ته زيات زيان رسوي او د الله تعالى سره يي اړيکه قطع کوي او ددې ضرر دومره زيات دی چې که چيرې دوه وږي ليوان په رمه کې پريږدې ، دومره زيات زيان به ورته ونه رسوي.

پيغمبرعليه السلام د مال او ثروت سره زياته مينه ساتل د خپل امت لپاره د تشويش وړ خبره بللې ده او د مال او ثروت سره مينه ساتل يي د خپل امت دهلاکت سبب ګرځولی دی.(فَوَاللهِ لاَ الْفَقْرَ أَخْشى عَلَيْكُمْ، وَلكِنْ أَخْشى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبلَكُمْ، فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا، وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ).متفق عليه

**ترجمه :** قسم په الله تعالى چې پرتاسو باندې د فقر څخه نه ويريږم ؛ بلکې له دې ويريږم چې لکه د پخوانيو امتونو په شان دنيا به درته پراخه شي او ددنيا د لاسته راوړلو لپاره به يو له بل سره مخکې والى کوی او تاسو به هم داسې هلاک کړي لکه څرنګه چې يي پخواني امتونه هلاک کړي ؤ.

**ب: قدرت ته د رسيدو لپاره حرص کول د اسلام له نظره:**

د إمارت او قدرت(منصب) غوښتل په هر شکل چې وي اسلام دا کار حرام کړی دی؛ ځکه هغه څوک چې قدرت او منصب غواړي داسې خلک جاه طلب، خود غرضه او د بدو ارادو څښتنان وي؛ چې دداسې خلکو منصب ته په رسيدو سره ټولنه د انحطاط او ماتې خواته ځي.

پيغمبرعليه السلام د منصب غوښتل، د مقام لپاره حرص، هلى ځلې کول حرام جرې دي او دهغه چا له مقررولو څخه يي انکار کړی دی چې خپله يي منصب غوښتی دی.

عن عبد الرحمن بن سمرة قال: قال النبى صلى الله عليه وسلم :(يَا عَبْدَ الرَّحْمنِ بْنَ سَمُرَةَ لاَ تَسْأَلِ الإِمَارَةَ، فَإِنَّكَ إِنْ أُوتِيْتَهَا عَنْ مَسْئَلَةٍ وكِلْتَ إِلَيْهَا، وَإِنْ أُوتِيْتَهَا مِنْ غَيْرِ مَسْئَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا) متفق عليه

**ترجمه:** اى عبدالرحمن ابن سمره ! د منصب او امارت غوښتنه مه کوه ؛ ځکه که چيرې منصب درته ستا د غوښتنې په اساس درکړل شو همغې ته به وسپارل شى ( الله تعالى به مرسته بـه درسره نـه کوي) او کـه چيرې منصب درتـه پرتـه د غوښتنې در کړل شو مرسته به درسره په کې وشي. (الله تعالى به درسره مرسته وکړي).

عن أبي موسى قال : دخلت على النبى صلى الله عليه وسلم أنا ور جلان من بني عمي ، فقال أحد الرجلين : يا رسول الله ،أمرنا على بعض ما ولاک الله عزوجل . وقال الآخر: مثل ذلک فقال : " إنا والله لا نولي على هذا العمل أحداً سأله ،ولا أحداً حرص عليه ".

**ترجمه:** ابوموسى اشعرى رضي الله عنه فرمايي: زه ددوه تره زامنو سره د پيغمبرعليه السلام حضور ته ورغلم. لـه دوى څخه يو کس وويل: اى د الله رسوله! ما هم په ځينو هغه کارونو وګماره چې الله تعالى تاته دهغې واک درکړى دى. هغه بل کس هم داسې وويل. پيغمبرعليه السلام وفرمايل: مونږ په دې دنده هغه څوک نه ګمارو چې خپله يې غوښتنه يي وکړي او حرص وربان‌دې وکړي .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: ( إِنَّكُمْ سَتَحْرِصُونَ عَلَى الْإِمَارَةِ وَسَتَكُونُ نَدَامَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَنِعْمَ الْمُرْضِعَةُ وَبِئْسَتِ الْفَاطِمَةُ) صحيح البخاري-نسخة طوق النجاة

**ترجمه:** بيشکه تاسو زيات حرص کوى د امارت لپاره خو د قيامت په ورځ بـه پښيماني وي . دا منصب غوره شيدې ورکونکې ده خو ډيره بده جدا کوونکې هم ده د قيامت په ورځ.

**۳- د تيرو امتونو د هلاکت له اسبابو څخه د امر بالمعروف او نهى عن المنكر پريښودل دي:**

د نوروټولنو په نسبت د اسلامي ټولنې بهتري په دې کې ده چې په اسلامي ټولنه کې د اجتماعي مرضونو، اخلاقي فساد او نورو جرمونو د له منځه وړلو په خاطر ددې ټولنې افراد يو بل خيرخواهى خواته سوق کوي او له بدى څخه يي منع کوي او نيکو کارونو ته يي تشويقوي. الله تعالى فرمايل دي:{كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ} آل عمران: (۱۱۰)

په يو حديث شريف کې راغلي دي:( مَنْ رَأى مِنْكُمْ مُنْكَراً فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ ، وَذَلِكَ أَضْعَفُالإِيمَانِ ) رواه مسلم .

**السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته**